مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۲/۰۸/۲۲

غــزل

شیخه خبرې دې منمه! خو نه
غم دې په ځان امبارومه! خو نه

لکه منصور دار ته پخپله خېژم
تا د واکدار په حېث منمه! خو نه

مرګ ترې نه ښه دی دا ژوندون نه غواړم
عمر په ویر کښې تېرومه! خو نه

زما پرمختګ ته دې خندونه جوړ کړل
ستا په تګ لاره باندې ځمه! خو نه

زه دا منم چې نن بې وسه یمه
دا ستا به هر جبر منمه! خو نه

ای پسرلیه انقلاب راوله
د ستا په ځېر ملک ورانومه! خو نه

مصطفی پسرلی

20/AUG/2022

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ